PROPERTY OF ACKU

دغه رنګ مو تاسي غوره امت ګرځولي یاست چي پر خلکو ګواهان اوسئ

شهادت

اونيزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

شهادت پنځم کال، ۲۵ مه ګڼه، پرله پسي ۲۲۴ مه ګڼه   سه شنبه ۱۳۹۲ هـ ل د تله ۳۰ مه   د۱۴۳۴ هـ ق د ذوالحجه۱۷ مه   د۲۰۱۳ م د اکتوبر ۲۲ مه

درس قرآن

هر څوک چي بو نفس د بل نفس له بدل څخه پرته یا یې له فساده په ځمکه کې ووژني نو ګواکې ټول خلک یې وژلي دي او هر چا چي دغه یو نفس ژوندی کړي نو ګواکې ټول خلک یې ژوندي کړي دي.

(المائدة: ۳۲)

درس حدیث

از ابو یحیی صهیب بن سنان رضی الله عنه روایت است که: آنحضرت صلی الله علیه وسلم فرمود: کار مسلمان انسان را به شگفتی و تعجب وا میدارد. زیرا همهء کارش برای او خیر است، و این امر برای هیچکس جز مسلمان ممکن نیست. اگر به وی فراخی و آسانی روی دهد شکر کند، برایش خیر است، و اگر به او سختی برسد هم صبر کند برایش خیر است. (ریاض الصالحین)

دحزب اسلامي افغانستان په سياسي حويلۍ کې د لوی اختر مبارکۍ پروګرام ترسره شو

شهادت:
د تېر په څېر دا ځل هم د لوی اختر په دويمه ورځ دحزب اسلامي افغانستان په سياسي دفتر کې د اختر مبارکۍ مراسم په ډېر جوش او خروش ترسره شو. پدې مبارکو او زړه راښکونکو مراسمو کې د دوه زرو په شاوخوا کې کابل ميشتو حزبيانو، علمای کرامو، قومي مشرانو، جهادي قوماندانانو او خوانانو برخه اخيستې وه.

پاتې ۴ مخ

سفير امريكا:

فساد، تهدید عمده در راه پیشرفت افغانستان است

کابل، رسانه ها:

جیمز کنینگهم سفیر امریکا در کابل با نشر یک اعلامیه، مشکل فساد در افغانستان را، تهدید عمده برای پیشرفت در این کشور خوانده است. سفیر امریکا گفته است، کمک های آینده بین المللی به افغانستان، وابسته به اقداماتی خواهد بود که حکومت افغانستان برای مبارزه بر ضد فساد در این کشور، اتخاذ می کند.

در اعلامیه سفیر امریکا در کابل گفته شده است، تاثیرات فساد اداری رابطه مستقیم با ثبات اقتصادی آینده افغانستان دارد و به هدف ادامه پیشرفت های ۱۲ سال گذشته، افغانستان نیاز به جلب بیشتر سرمایه گذاری ها دارد.

در اعلامیه گفته شده است که فرصت های خوب برای سرمایه گذاری در افغانستان وجود دارند و با محو فساد می توان فرصت های اقتصادی بیشتری را برای افغان ها فراهم ساخت. ...

بقیه در صفحه ۴

آیساف: نیروهای افغان توانایی تامین امنیت انتخابات را دارند

کابل، رسانه ها:

آیساف با نیرو های کمک به امنیت در افغانستان برگزاری انتخابات ریاست جمهوری سال آینده را در این کشور مهم دانسته و آن را به نفع افغان ها و جامعه جهانی می خواند.

هانیز فیلدمن سخنگوی آیساف در افغانستان به روز دوشنبه در صحبت با رادیو آزادی گفت آنان اطمینان دارند که نیرو های امنیتی افغان قادر به تامین امنیت انتخابات اند.

اما وی گفت که در صورت ضرورت و تقاضای حکومت افغانستان، نیرو های کمک به امنیت حاضر به همکاری در بخش لوژستیک و تامین امنیت انتخابات در این کشور اند.

بقیه در صفحه ۴

د ځمکو د غاصبينو د لست خپرېدو د ولسي جرګې د ځينو غړو غوصه وپاروله

کابل، رسنۍ:

د ولسي جرګې يو شمير غړي د حکومت پر اعمالو د ولسي جرګې د څارنې د څانګړې کميسيون د هغه لست په خپرېدو انتقاد کوي چې؛ څو ورځې مخکې د ولسي جرګې يو شمېر غړي يې د ځمکو په غصب تورن کړل.

سره له دې چې، د ولسي جرګې غړي له دې وړاندې ټينګار کاوه چې؛ د ځمکو د غاصبينو په نوم لست دې ژر تر ژره اعلان شي؛ خو د دې لست خپرېدو د ولسي جرګې د ځينو غړو غوصه راپارولې ده.

د ولسي جرګې د دوشنبې ورځې په عمومي جلسه کې يو شمېر وکيلانو د حکومت پر اعمالو د ولسي جرګې د څارنې...

پاتې ۴ مخ

کرزي د لوګر دوه امنيتي چارواکي له دندو ګوښه کړي

کابل، رسنۍ:

ولسمشر حامد کرزي د کابل په جوړ... لوګر امنيه قوماندان او د استخباراتو رييس دواړه له دندو ګوښه کړي دي.

د لوګر دغه دوه جګپوړي امنيتي چارواکي له هغه يوه اوونۍ وروسته له دندې شړل شوي، چي والي ارسلا جمال ووژل شو.

د لوګر د والي وياند دين محمد درويش بي بي سي ته ويلي، دغه دوه چارواکي د بې کفايتۍ له کبله له خپلو دندو لرې شوي او پرځای نوي کسان په دندو ګومارل شوي دي. د افغانستان د لوګر والي ارسلاجمال په جوماتي کې د ايښودل شوي يوه بم په چاودنه کې ووژل شو. ښاغلی جمال (سه شنبه، اکتوبر ۱۵) سهار د اختر د لمانځه پرمهال خلکو ته وينا کوله چې چاودنې ځای پر ځای وواژه.

پاتې ۴ مخ

مداوای همهء دردها یکیست

فدا محمد فایض

قانون از خود جسم فزیکی ندارد، حرکت کرده نمیتواند، پس همین دولت است، ارگانهای امنیتی، عدلی و قضایی هستند که به قانون روح می بخشند، قانون را به حرکت در می آورند. من باور دارم اگر قانون عملی شود، تمام جرایمی که ملت از آن به ستوه آمده از بین خواهد رفت.

از سالها به اینسو از هر سو شکایت بلند است:

رشوت است ؛

اختلاس است ؛

غصب است ؛

خشونت علیه زنان است ؛

تجاوزات جنسی است ؛

اختطاف است ؛

قتل است ؛

قاچاق مواد مخدر است ؛

و مانند اینها ده ها مورد دیگر...

در آغاز تا تشکیل پولیس ملی، اردوی ملی و تقویت امنیت ملی هر کس خود را به این قناعت میداد، ازینکه ارگانهای امنیتی به معنای واقعی کلمه وجود ندارند، پس باید تا مدتی این همه جفاها را کشید و منتظر ماند تا این ارگانها مطابق به نیازمندیهای جامعهٔ ما تشکیل شوند؛ ولی اردوی ملی و پولیس ملی هم تشکیل شد که از نظر کمی در تاریخ افغانستان سابقه ندارد و اگر از وزیران مربوطهٔ این وزارتها پرسیده شود، هیچکدام خود را کم نمیزند؛ قوای ثلاثه موجود است. پولیس داریم، څارنوالی داریم و قضا داریم؛ ولی با وجود این همه شکایات کما فی السابق برحال خود باقیست، در هفته قبل از ایام عید سعید اضحی، قوماندان امنیهٔ ولایت کابل ازگرفتاری یک قاتل واختطافگر خبر داد...

بقیه در صفحه دوم

د شهيد ارسلا جمال لنډه پيژندنه

شهيد ارسلا جمال، د روزي خان زوی په ۱۳۴۵ لمريز کال، د پکتيکا ولايت، د يوسف خيلو ولسوالۍ، د برات خيلو په کلي کې نړۍ ته سترګې وغړولې.

پاتې ۳ مخ

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

د ځمکو له غاصبینو سره دې جدي قانوني چلند وشي

د تېرې شنبې په ورځ پارلمان د دولتي ځمکو دهغو غاصبینو نوملړ اعلان کړ چې تراوسه لکونو جریبه ځمکه غصب، او د یو لوی ملي خیانت مرتکب پېژندل شوي دي.

که څه هم ولس له وړاندېنه د ځمکو غاصبین پېژندلي وو او په دې واقعیت پوه وو چې په لکونو جریبه ځمکه یې غصب کړې؛ خو له دې پرته چې دهغوی په دغه ناروا کار خپل ژوره اندېښنه ښکاره کړي بل څه یې نه شوای کولای ځکه چې هغوی قانون پخپل لاس کې نه شو اخستلای. د غاصبینو او نورو قانون ماتوونکو نیول او محاکمه کول د عدلي او قضایي ارگانونو فرض دی چې د عدالت په رڼا کې ورسره چلند وکړي او لازمه سزا ورته واوروي. لومړی خو باید حکومت دومره ویده او غافله نه وای چې غاصبین دولتي ځمکه غصب او پخپل تصرف کې راولي، دا چې غافله شوي او یا یې هم ورسره سازش کړې دی د وخت واکمنان هم په دې لویه گناه کې برابر شریک او د الله (ج) او ملت په وړاندې مسؤول دي.

اوس چې د افغانستان د مظلوم ولس د زیات اصرار او پرله پسې فشارونو په نتیجه کې د ولسي جرگې وکیلانو د غاصبینو نوملړ اعلان کړی او په رسنیو کې خپور شوی هم دی د افغانستان د ټولو هېوادپالو وگړو جدي غوښتنه داده چې ژر تر ژره ددوی د محاکمې پروسه هم پیل شي؛ عدلي او قضایي ارگانونه د الهي شریعت پر تطبیقولو هغه سزا ورته ورکړي چې په شریعت کې د ځمکو او نورو مالونو غصب کوونکو ته تجویز شوی دی؛ ځکه چې د قانون تطبیق یواځېنی قوت دی چې د ډول ډول جرمونو مخه نیسي او هېڅ سرکش او باغي نفس نه شي کولې چې د قانون په موجودیت او د هغه سهي نفاذ په صورت کې د جرمونو د ارتکاب جرئت وکړي، تراوسه پورې چې په افغانستان کې د غصب او نورو ډول ډول جرمونو کوم مسلسل خطرناک تصویرونه لیدل کېږي، ددې ترشا د قانون نه پلي کېدل لوی عامل دی، چېرته چې قانون نه وي او یا هم د قانون پلي کوونکی د فساد په گنده ډنډ کې غرق وي هلته بیا د جرایمو وده او ترسره کېدل حتمي خبره ده لکه چې څرگنده بېلگه یې په افغانستان کې تر سترگو کېږي. د کائناتو خالق او مالک ذات الله تعالی چې پر خپلو بنده گانو خورا زیات مهربان دی مجرمینو او له قانون نه سرغړونکو ته پخپل ازلي کلام قرآن کریم کې حدود او نورې سزاگانې په دې خاطر ټاکلي دي چې د نورو انسانانو ځان، مال، عزت او آبرو خوندي او د امن په فضاء کې ژوند وکړي.

له څه شک پرته مجرمان د بدن دهغه سرطان مثال لري چې بالآخره د یو انسان ژوند له منځه وړي نو ځکه ددغې سرطاني دانې له بېخه ویستل د انسان د ژوندي پاتې کېدو ستر ضمانت دی. لکه څنگه چې د سرطاني دانې له لیرې کولو پرته د یو انسان ژوند نشي تضمین کیدلی همداسې د فاسدو عناصرو او مجرمینو د محوه کولو پرته ټولنه د آرام او هوسا ژوند له نعمته نشي برخمن کیدلې. ښه به دا وي چې واکمنان د مجرمینو او فاسدو عناصرو د محوه کولو په لړ کې د هېڅ ډول غفلت او تنبلي ښکار نشي، د کومو غاصبینو نومونه چې اعلان شوي هغوی ژر تر ژره د قانون منگولو ته وسپاري، دقیقه حسابي ورسره وکړي او د خپلې ناروا کړنې سزا ورته ورکړي، که نه نو افغانستان به د فساد او مافیا په داسې خطرناکه اډه بدلېږي چې قابو کول یې گران او بالاخر به خپل هر څه له لاسه ورکوي.

مداوای همه دردها یکیست

(ادامه از صفحه اول)

...که به قول خودش از ده سال گذشته به اینسو تحت پیگرد پولیس بود، تا بالاخره طی یک برخورد به چنگ پولیس افتاد.

قوماندان امنیه افزود که موصوف بخاطر رهایی خود سه میلیون دالر را پیشکش پولیس نمود که از سوی پولیس رد شد، وقتی او را به توقیفگاه بردیم اطلاع یافتیم که دستها برای ربودن او از چنگ پولیس درکار است که ما فوراً تدابیر شدید امنیتی گرفتیم و آن توطیه عقیم ماند، بعداً به افرادی که در گرفتاری او سهیم بودند اخطارها رسید و به خودم نیز اخطار داده شد که من فوراً خانهٔ افراد پولیس مربوطه را به جای امن انتقال دادم و حتی به اطفال آنها گفتم که تا مدتی به مکتب هم نروند.

قوماندان امنیه از مقامات عدلی و قضایی خواست که هر چه عاجلتر بالای دوسیهٔ او کار کنند ورنه دستهای نیرومندی برای رهایی او درکار است. او اخطار کرد که اگر مجرم موصوف رها شود او از عهده اش کنار خواهد رفت.

البته این مشت نمونهٔ خروار است ورنه کم نیستند چنین افرادی. آنانی که در رهایی چنین افراد تلاش میکنند و بالای ارگانهای مربوطه فشار میآورند، علت آن است که آنها شریک جرم شان اند؛ قتلهای سیاسیی که صورت گرفته و میگیرد، توسط همچو افراد، اگر ثروتمندان بخاطر پول اختطاف میشوند همین افراد زورمندی که بر پستهای بلند تمکن ورزیده اند با آنها شریک اند. این همه نابسامانیها از اینجا نشأت میکند، که مصلحتها درنظر گرفته میشود و قانون پامال میگردد. قانون از خود جسم فزیکی ندارد، حرکت کرده نمیتواند، پس همین دولت است، ارگانهای امنیتی، عدلی و قضایی هستند که به قانون روح می بخشند، قانون را به حرکت در می آورند. من باور دارم اگر قانون عملی شود، تمام جرایمی که ملت از آن به ستوه آمده از بین خواهد رفت. خدا را اطفال سه ساله، پنجساله و هفت سالهٔ این ملت بدبخت مورد تجاوز جنسی قرار میگیرند، تجاوز هم بیشتر از سوی افراد زورمند و یا وابستگان آنها صورت میگیرد، حدود الله از سال ۲۰۰۱ تا اکنون در حالت تعطیل قرار دارد، نه یک قاتل قصاص شد، نه یک زانی محصن رجم گردید، نه یک دزد و قطاع الطریق مطابق بحکم دین مقدس اسلام مجازات گردید. اگر مجازات میشوند فقط آنهایی که نه زر دارند و نه زور، آنهایی که زور دارند بعد از حکم محکمه هم که جزای شان تعیین گردید به احکام فوق العادهٔ ((مقامات صالحه)) بصورت فوق العاده رها گردیدند. دولت از هیچکس نپرسید و بلکه پرسیده نتوانست، که این همه جایدادها را از کجا خریدی؟ این همه پول ها را از کجا کردی؟ هر کس فقط کلوخ را در آب میماند و از سر آن میگذرد، هر کس پنج روز را غنیمت میشمارد، تا جیبهای خود را پر کند. بقول حضرت بیدل (رح):

کسیهٔ هیچکس ندیدی پُر
تا نکرد ارتکاب کیسه بُری

آنچه رفت، رفت و آنچه گذشت، گذشت تصفیهٔ حساب با چنین افراد بدون شک در فردای قیامت صورت خواهد گرفت؛ ولی تشویش دیگر ما این است، که همین افراد زورگو و قلدر، غاصب، رشوت خوار و اختلاسگر و حامی اختطافگران و قاچاقبران مواد مخدر، از صد راه ناروا پول اندوختند و در فردای سیاسی کشور هم نقش برازنده خواهند داشت.

همین ها هستند که پول دارند، امکانات دارند، خدمتگار دارند، دسترخوان دارند و خود را در جامعه صاحب اعتبار ساخته اند.

شما توجه کنید لوی څارنوالی اعلان میکند که بیش از چهار میلیون جریب زمین غصب شده است ولی تا به امروز نام یک غاصب از سوی آن اداره اعلان نشد، ولسی جرگه هم امروز و فردا میکرد که لست غاصبین را که افراد بلند دولتی هم شامل آن اند اعلان خواهد کرد و این اعلان را هم به اصطلاح مانند مردهٔ روز جمعه بالای جمعهٔ دیگر سپرد، تا اینکه بتاریخ ۲۷/۷/۱۳۹۲ یک لست را که مسلماً ناتکمیل است اعلان نمود. مشرانو جرگه هم از لوی څارنوالی شکایت میکند که در مورد غاصبین زمین تعلل میورزد.

اینکه چرا مقامات دولتی نمیتوانند قانون را پیاده کنند چندین علت دارد:

اول اینکه دامن خیلی از افراد قابل حساب و قابل اعتبار خود آلوده است.

دوم اینکه دولت ضعیف است، و نمیتواند اظهار قوت نماید. تا زمانی که حکومت تقویت نشود، تطبیق قانون علامت استفهام پیش روی خود دارد.

سوم مداخلات بیرونی باعث شده است که دولت نتواند قانون را تطبیق کند اگر همزمان با آوازهٔ تبدیلی یک والی خانم اول یک کشور بزرگ از آن گوشهٔ دنیا به رئیس جمهور تیلفون میکند پس می بینیم که مداخلات بیرونی تا چه حد است. با آنکه ما تمام واقعیتها را می پذیریم و باید بپذیریم؛ ولی با آن هم این عوامل به ما برائت نمیدهد و خموشی دولت در برابر این همه نابسامانیها قابل بخشش نیست.

مولانا امین احسن اصلاحی مرحوم در تشریح یک حدیث حرف زیبایی دارد و میگوید: مزاج دولت باید مردانه باشد، اگر مزاج دولت مردانه نباشد نمیتواند قانون را پیاده کند.

ما متأسفانه فرصتهای زیادی را ضایع کردیم و دولت بیش از همه فرصتها را ضایع نمود، عقل هم حکم میکند، که از سال ۲۰۰۱ تا به امروز وضعیت باید به تدریج بهبود پیدا میکرد و امروز حاکمیت قانون بحدی میرسید که کم از کم دست مجرمین کلان گرفته میشد و تا حدی صاحب یک زندگی مطمئن تر می بودیم.

یکی از خصوصیاتی که شایستهٔ رهبری است، جرأت است. توجه کنید، در زمان خلافت حضرت ابوبکر صدیق (رض) اولین مشکل عمده یی که سر برافراشت فتنهٔ ارتداد بود که یک عده از دادن زکات سر باز زدند؛ ولی حضرت ابوبکر فقط با جرأتی که داشت آتش آن فتنه را فرو نشاند و منکرین زکات را به دادن زکات واداشت پس رهبری دولت باید با جرأت عمل کند و قانون را فقط با استفاده از جرأت عملی کند، و قانون باید بالای همه یکسان عملی شود.

در جامعه یی که قانون حکومت نکند به جنگل میماند که اصطلاح قانون جنگل هم از همینجا نشأت میکند.

د ۲۷ کلن ځوان پر قتل دهغه د مور ګیله

محمد خلیل

تېر کال د لغمان ولایت په الینګار ولسوالۍ کې یو ۲۷ کلن ځوان چې پلار یې د خپل دین او خاورې په دفاع کې د شهادت خوږ جام څکلی و د یو ظالم او وحشي سړي له لاسه د کلاشنکوف په ګولیو غلبیل او د خپل کور د دروازې د باندې خپل خوږ ژوند له لاسه ورکړه، د شهید مور چې ۲۷ کاله د کونډتوب عمر یې تېر کړی و او خپل ایکې یوازینی زوی یې پخپل غېږ کې لوی کړې او پاللې و، د ژړا پر وخت دا ګیله یې بیا بیا کوله چې بچیه! ستا پلار خپل سر په دې خاطر نذرانه کړی و چې په افغانستان کې سوچه اسلامي حکومت قایم شي، د ظلم، تیري او استبداد جرړې ختمې شي او هر چېرته د امن، عدالت او انصاف بیرغ ورپېږي. والله چې د جهادي ګوندونو مشران ستا او نورو لکونو شهیدانو د قربانیو او ارمانونو قاتلان دي، هغوی ستا او ستا په څېر چې څومره بې ګناه خلک وژل کېږي مسؤول او ځواب ورکوونکي دي، که هغوی پخپلو کې یو موټی او یو غږ شوي وای افغانستان به ولې د ظلم او استبداد په بټۍ بدلېده، ولې به هره ورځ ستا په څېر لسګونه او سلګونه ځوانان د کلاشنکوف د بې رحمو مرمیو ښکار کېدل، ولې به زما په څېر زرګونه او لکونه میندې د غم او وير په تغر کېښناستې؟ زما او زما په څېر د لکونو شهیدانو میرمنو خو په دې خاطر د کونډتوب د اوسپنې نیتې چیچلې وې چې راتلونکی افغانستان به د شهیدانو د وارثینو لپاره د امن کور وي او هر افغان به د اسلام د مبین دین تر سیوري لاندې ژوند تېروي نه به د چا پر ځان تیری کېږي او نه پر مال او عفت یې، زما لاس نن هم د مشرانو په ګریوان کې دی او د قیامت په ورځ به هم زما لاس او دهغوی ګریوان وي.

پدې کې هېڅ شک نشته چې دا ډول احساسات د افغانستان هره مجاهده کورنۍ پخپله سینه کې لري، هره کونډه هر تیم او هر مور او پلار همدا یو ارمان لري چې دهغوی د شهیدانو وینه رنګ راوړي د شهیدانو او دهغوی وارثینو د مودو ارمانونه ورژېږي او هغو نیالګیو خوږه میوه ترلاسه کړي چې شهیدانو پخپلو سرو وینو خړوبه کړي دي. د حزب اسلامي او جمعیت اسلامي ترمنځ یووالې او اتفاق د شهیدانو او ټول مجاهد ولس د ارمانونو د تحقق لپاره یو بنسټیز اقدام دی، په دې سره د ډېریو افغانانو د امیدونو غوټۍ غوړېدلې او هغو کونډو رنډو او یتیمانو لپاره د زړه ټکور دی چې غوښتل یې جهادي مشران په یو منظم صف کې ودرېږي. په خدای قسم چې د جهادي مشرانو عزت او منزلت په دې کې دی چې د خپل مجاهد او شهید پاله ولس غوښتنو ته لبیک ووایي، د اختلاف نه لاس په سر شي او د اتفاق په یو نه ماتېدونکی فولادي صف کې ودرېږي، دا څومره د بې انصافۍ خبره ده چې د خپلو هغو لکونو شهیدانو، کونډو، رنډو، یتیمانو او نومیالیو مجاهدینو د ارمانونو د تحقق لپاره لږ تر لږه د خپلې ځان غوښتنې څخه نشي تېرېدلې او پخپل سرکش نفس د قربانولو جرئت نه کوي، آخر دا به د شهیدانو له وینې سره کومه وفا وي چې دهغوی د ککریو د قربانۍ په بدل کې لږ تر لږه پخپل نفس پښه نشي ایښودلې او دومره قرباني نشي ورکولې چې د اسلام د سرلوړۍ، استقلال او د خپل مجاهد او قهرمان ولس د ارمانونو د ترسره کېدو لپاره د اتفاق او یووالې ډګر ته ودانګي؟!!

د اسلام او جهاد په نوم جوړ شوی د هر ګوند مشر دې خپل سر په ګریوان کې ښکته او د خپل ضمیر په عدالت کې فیصله وکړي چې که په اوسنیو حساسو او نازکو حالاتو کې چې د اسلام او اسلامي حکومت دښمنان ټول سره یو لاس شوي او په بشپړ قوت کوښښ کوي چې په افغانستان کې د تل لپاره د اسلامي نظام غوښتونکی له صحنې نه وباسي او د لکونو شهیدانو پر ککریو ګټل شوی افغانستان د لادینۍ ډګر وګرځوي دهغوی ددغه شیطاني یون په وړاندې د مضبوط غره په څېر ونه درېږي، د خدای او ملت په وړاندې به څه ځواب ووایي؟ ایا ددوی ددغه غفلت او بې حسي له کبله چې افغانستان د بې دینۍ او عیاشۍ په اډه بدلېږي او مسلمانان د تل لپاره د محکومیت او مظلومیت کندی ته ورټیل وهل کېږي ددې ټولو ناخوالو مسؤولیت به ددوی په غاړه نه وي؟! خامخا به د خپل غفلت او بې حسۍ ځواب ورکوي. که لږ غوندې هم له عقل او منطق نه کار واخیستل شي او په اوسنیو حالاتو ځغلنده نظر واچول شي؛ نو نن هم حالات د اسلامي تنظیمونو لپاره مساعد دي، د هېواد مطلق اکثریت د اسلامي حکومت ارمانجن او مسلمانو کاندیدانو ته د رأی ورکولو ژمنه لري، که واقعاً زموږ جهادي شخصتیونه په دنیا او آخرت کې د الله (ج) او خپل مسلمان ملت په وړاندې سرلوړی، او د تاریخ په پاڼو کې روښانه نوم کسبول غواړي همدا یې مناسب وخت دی، نه ښایي دغه طلایي چانس له لاسه وایستل شي.

د اسلامي تنظیمونو عزت په دې کې دی چې په یوه تغره کیني یو شعار او یو دریځ خپل کړي او خپل مسلمان ملت ته د اتفاق او یووالۍ قیمتي ډالۍ وړاندې کړي، د یو سوچه اسلامي حکومت په شکل کې یو موټی، مستحکم، پرامن او پرمختللی هېواد ورکړي. که نه نو راتلونکی لپاره به له ذلت پرته بل هېڅ ترلاسه نکړي. لاسونه به مروړي خو هر څه به یې له لاسه وتلی وي، ښه به دا وي چې سبا ته د پښېمانۍ پرځای همدا نن له عقل نه کار واخلي او د عمل ډګر ته ودانګي.

مړه یې مه بولئ ژوندي دي

د افغان مقدس جهاد د سپېڅلو شهیدانو یاد

خلص سوانح شهید حبیب الله ((سامع))

حبیب الله ((سامع)) یکتن از پیشتازان نهضت اسلامی از قریه دشتک ولسوالی جرم ولایت بدخشان که تعلیمات ابتدایی و ثانوی خود را در لیسه غیاثی ولسوالی جرم به پایان رسانید. بعداز تکمیل دوره ثانوی در اثنائیکه تهداب نهضت اسلامی در پوهنتون کابل گذاشته شده بود به جمع از یاران و همقطاران دعوت گر خویش پیوست، و شامل فاکولته ادبیات و ژورنالیزم پوهنتون کابل گردید. سامع یکی از چهره های سرشناس بود، که سابقه داران نهضت اسلامی خاطرات سامع را همه بیاد دارند.

حبیب الله ((سامع)) مرد سخن، قلم دار و شاعر با قریحه و دعوت گر پرتلاش بود. با ذوق خدادادیکه در عرصه شعر داشت با سرودن اشعار حماسی و انقلابی احساسات جوانان مسلمان را بجوش میآورد و همیشه در میتنگ ها، کنفرانس ها و در همه محافل دعوت و جهاد اشعار میسرود، که براستی در دل دشمن و هواداران کمونیزم و ماوئیزم ترس و وحشت را ایجاد می نمود، و با قدرت آتشین شعرش جوانان را در صفوف نهضت اسلامی میکشانید. سامع مرد حلیم، بردبار، متقی و داعی سلحشوری بود که باوجود جهاد قلم در میدان نبرد هم از دوستان و همسنگران خود بیشتر به قربانی حاضر میشد، و مطابق به دساتیر هسته مرکزی نهضت جوانان مسلمان به فعالیت های خویش ادامه میداد.

نامبرده بعد از کودتایی ننگین (۷) ثور محیط پوهنتون را ترک گفته رهسپار سنگرهای داغ جهاد شد و در ولسوالی جرم بدخشان بصفت آمر جهاد ولسوالی مذکور تعیین گردید. وظایف محوله جهادی را منحیث یک داعی و مجاهد با عزم آهنین و اعتقاد راسخ به پیروزی در برابر دشمن جبون ادامه میداد. تا اینکه این مرد مجاهد و شاعر توانایی نهضت اسلامی که تظاهرات نهضت جوانان مسلمان همیشه با اشعارش رنگین بود بالاخره در اوایل سال ۱۳۵۸ در جریان جهاد مسلحانه علیه گروه های مزدور خلق و پرچم در قریه فرغاملون مربوط ولسوالی جرم به اثر بمباردمان طیارات روسی به شهادت رسید.

(انا لله و انا الیه راجعون)

یادش همیشه و نام اش گرامی باد

نمونه کلام شهید حبیب الله ((سامع)):

دل خون گریست قصهٔ دل ناشنیده ماند
نجوای دل بگوش فلک نارسیده ماند
آهنگ آستان حرم داشت زندگی
در بادیه بخاک هوس ها تپیده ماند
شهباز آرزو در افق های بیکران
شهسپر شکست و در دل هستی خمیده ماند
پروانهٔ امید چو شمع مزار سوخت
نور وفا بپای سحر نادمیده ماند
صاحب دلی نبود که داند طریق مهر
اشک نیاز بر رخ ((سامع)) چکیده ماند

د شهید ارسلا جمال لنډه پیژندنه

(د لومړۍ مخ پاتې برخه)

... نوموړی لومړنۍ زده کړې په حبیبیه لیسه کې، منځنۍ زده کړې په هجرت کې د سید جمال الدین افغان په لیسه کې او لوړې زده کړې یې د ماسټرۍ په کچه په مالیزیا کې، په نړیوال اقتصاد او پولي سیستم کې بشپړې کړې.

شهید ارسلا، د کاري ژوند پر مهال، لومړی د نبراسکا پوهنتون د مالي څانګې د مسؤول. بیا د پاملرنې د نړیوالې مؤسسې د پروژې جوړولو د برخې د مشر په توګه پاتې شوی له هغې وروسته یې د کاناډا د بشري مرستو په اداره کې مختلفې دندې ترسره کړې دي.

همدارنګه په ۱۳۷۳ لمریز کال کې، د افغانستان بانک مرستیال په توګه په دنده وګمارل شو.

له هغې راوروسته کلونو کې لومړی د کلیو د پراختیا وزارت د اوبو لګولو د څانګې د مسؤول په توګه او وروسې یې د ملي ثبات په پروژه کې دندې سرته رسولې دي.

ارسلا جمال، په ۱۳۸۵ کال کې د خوست د والي په توګه پر دندې وګومارل شو، خو په ۱۳۸۷ لمریز کال یې له نوموړې دندې استعفا وکړه او د ولسمشر حامد کرزي له لوري د ښو خدمتونو له امله، د میر مسجدي خان په مډال وویاړل شو.

د ۱۳۸۸ لمریز کال د ولسمشریزو ټاکنو پر مهال، د ولسمشر حامد کرزي د انتخاباتي کمپاین د مسؤول په توګه دنده سرته رسولې.

په ۱۳۸۹ لمریز کال کې د قبایلو او سرحداتو چارو وزارت د سرپرست په توګه او د روان کال د حمل میاشتې پر ۲۷ نېټه، د لوګر ولایت د والي په توګه پر دنده وګمارل شو، چې بیا یې د شهادت تر شیبې پورې دغه دنده سرته رسوله.

د لوی اختر پر لومړۍ ورځ، چې د میزان له څلور ویشتمې نېټې سره برابره ده، د خاورې، ولس او دین دښمنانو په داسې حال کې په شهادت ورساوه، چې د اختر لمونځ کوونکو ته یې وینا کوله. شهید ارسلا جمال یو با دیانته مسلمان مجاهد او وطندوست انسان و، چې غوښتل یې په لوګر ولایت کې سوله او ثبات ټینګ او پرمختګ رامنځته کړي. نوموړي شهید د نورو دندو ترڅنګ په ټینګه هڅه کوله، چې د لوګر د مسو کان پروژه، پر وخت پیل او په دې توګه د سیمې د خلکو لپاره کار روزګار پیدا او د ګران افغانستان اقتصاد وغوړېږي؛ خو د یوه بامنه، باثباته، غوړېدلي افغانستان او افغانانو دښمنانانو، نوموړی مسلمانانو ته تر ټولو سپېڅلي ځای یعنې جومات کې، په شهادت ورساو.

د حزب اسلامي افغانستان مشرتابه او اجرائیه شورى، په دې دردناکه پېښه د زړه له تله دردېدلي او د شهید ارواح ته د دعا لاسونو په لپه کولو د شهید کورنۍ او دوستانو ته د رب العزت له درباره د جمیل صبر غوښتنه کوي.

روح یې ښاد او یاد یې تل پاتې

شهادت

ورځپاڼه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

خبرونكې اداره د حزب اسلامي افغانستان فرهنگي خانګه
د امتياز خاوند حزب اسلامي افغانستان
مسؤول مدير عبدالله "كامه وال"
مرستيال مدير عبدالخليل (خليل)

د اړيکو شمېرې
دفتر ۰۲۰۲۵۲۱۲۳۲
مسؤول مدير ۰۷۷۷۲۰۲۲۰۱
مرستيال مدير ۰۷۷۲۲۷۵۷۸۳

• د شهادت اونيزه د هر ليکوال او د نظر خاوند د ليکنو هرکلی کوي.
• د شهادت اونيزه حق لري چې د ليکوال ليکنه د ضرورت په وخت داسې اصلاح کړي چې د ليکنې اصل روح ته تاوان ونه رسي
• راليږل شوي مطالب نه مسترديږي - يوازې سرليکنه د شهادت د اونيزې رسمي نظر دی.

ډيزاين خواجه وحيدالله | آدرس دحزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر، د شاداب ظفر بلاکونو شاته، خوشال خان مينه - کابل | Email Add: shahadatnews_kabul@yahoo.com

افغانستان د نړۍ په رسنيو کې

د يوه طالب زنداني د وژلو په اړه د ۳ برېتانوي سرتېرو محاکمه

د برېتانيې چاپ ډيلي ميل خبروني د هغو درېيو برېتانوي سرتېرو د محاکمې په اړه چې په افغانستان کې د يوه طالب زنداني په وژلو تورن دي، يو مطلب ليکلی دی.

خبرونه ليکي:

د افغانستان په ۱۲ کلنه جګړه کې دا لومړی ځل دی چې؛ د برېتانيې د سلطنتي سمندري ځواک سرتېري د يوه زنداني د وژنې په قضيه کې محاکمه کېږي.

د برتانيې د دفاع وزير فليب هامون د دې قضيې د پرمختګ په اړه چې خورا حساسه بلل شوې ده، صدراعظم ډيوډ کمرون ته معلومات ورکړي دي.

ډيلي ميل ليکي:

د برېتانوي سرتېرو له خوا په افغانستان کې د يوه طالب زنداني د وژل کېدو قضيه د لومړي ځل لپاره هغه وخت پورته شوه کله چې جنايي پوليسو د يو بل جلا جرم په اړه د تحقيقاتو پر مهال د دغو سرتېرو په کمپيوترونو کې د دغې قضيې په ارتباط يوه ويډيو پيدا کړه.

په دغې ويډيو کې ښکاره کېږي چې؛ برېتانوي کماندو سرتېري د ټپي شوي زنداني د پاسه ولاړ دي او د هغه د برخليک په اړه خبرې کوي.

ډيلي ميل وړاندې ليکي:

ټاکل شوې ده چې؛ د تورونو سرتېرو پوځي محاکمه راتلونکې چهارشنبه پيل او د راتلونکي نومبر مياشت تر پنځلسې پورې دوام وکړي.

نيويارک ټايمز ورځپاڼې له پاکستان سره د متحده ايالاتو د مالي مرستو د بيا پيلېدو موضوع ياده کړې:

نيويارک ټايمز د امريکايي مقاماتو په حواله ليکلي:

متحده ايالات پاکستان ته هغه څه د پاسه يو عشاريه ۶ ميليارده ډالر مرسته ورکوي چې؛ په ۲۰۱۱م کال کې په پاکستان کې د اسامه بن لادن له وژل کېدو وروسته د دواړو خواو ترمنځ اړيکو کې له کړکيچ وروسته ځنډول شوې وه.

د ورځپاڼې په وينا تمه ده چې؛ د دې مرستې اعلان به ولسمشر اوباما د چهارشنبې په ورځ په سپينه ماڼۍ کې د پاکستان له صدراعظم نواز شريف سره د کتنې پر مهال وکړي.

د مطلب ليکونکی وايي، سره له دې چې امريکا غواړي د دې مرستې له لارې د پاکستان پر وړاندې خپل ښه نيت څرګند کړي خو بيا هم د پاکستان پر قبايلي سيمو د بې پيلوټه الوتکو د بريدونو له امله د واشنګټن او اسلام اباد ترمنځ اړيکو کې کړکيچ لا پر ځای پاتې دی.

د نيويارک ټايمز په باور د دواړو هېوادونو ترمنځ د کړکيچ يوه بله مسله د ۲۰۱۴ کال په پای کې له افغانستان څخه د نړېوالو ځواکونو له وتلو وروسته د افغانستان د راتلونکې موضوع ده.

امريکايي چارواکي په دې باور دي چې پاکستان کولی شي د افغانستان د سولې په پروسه کې طالبان خبرو اترو ته کېنوي.

خو د ورځپاڼې په وينا متحده ايالات په عين وخت کې د حقاني شبکې په شان ډلو سره د پاکستان د پوځ اړيکو ته د شک په سترګه ګوري.

نيويارک ټايمز د مطلب په پای کې د امريکا د بهرنيو چارو وزارت د وياندې ماري حارف په حواله ليکلي:

له پاکستان سره د مرستو بيا پيلول د پوځي همکارۍ د هغې اوږدې لړۍ يوه برخه ده چې په ۲۰۱۱ او ۲۰۱۲ کلونو کې د دواړو لورو ته د ورپېښو ځنډونو له امله ټکني شوې وه.

امریکا به پاکستان یك میلیارد و ۶۰۰ میلیون دالر کمك می کند

کابل، رسانه ها:

امریکا تصمیم گرفته است که یک میلیارد و ششصد میلیون دالر را به پاکستان کمک نظامی و اقتصادی کند.

این کمک امریکا به پاکستان بعد از آن به تاخیر افتاد که نیروهای خاص امریکایی در دوم ماه می سال ۲۰۱۱ اسامه بن لادن را در منطقه ایبت آباد پاکستان کشتند و بعد از آن روابط میان دو کشور متضرر گردید.

مقامات امریکایی و منابع نزدیک به کانگرس امریکا می گویند، حال روابط بین امریکا و پاکستان تاحدی خوب شده است که این کمک ها به آنکشور داده شود.

راه های اکمالاتی نیروهای ناتو در افغانستان که از پاکستان می گذرند باز اند و حملات جنجال برانگیز طیاره های بی پیلوت امریکایی هم بر خاک پاکستان کاهش یافته اند.

امریکا و پاکستان اخیراً اعلان کردند روابط دیپلوماتیک شانرا بعد از یک وقفه طولانی از سر می گیرند.

حال نواز شریف صدراعظم پاکستان به امریکا رفته است و قرار است به روز چهارشنبه با رییس جمهور اوباما ملاقات کند. مقامات می گویند، کانگرس، رقمی پول های را که قرار است در آغاز سال آینده به پاکستان داده شود، افشا کرده است.

وزارت خارجه امریکا و اداره کمک های بین المللی آنکشور در ماه اگست به کانگرس معلومات دادند که انتظار می رود بخشی زیادی از پول های وعده داده شده به پاکستان، برای مبارزه برضد تروریزم تخصیص یابد.

اقدامات علیه تروریزم برای امریکا مهم است زیرا قرار است نیروهای خارجی مستقر در افغانستان سال آینده از آنکشور خارج شوند و امریکا تلاش دارد بعد از خود یک حکومت با ثبات را در افغانستان به جا بگذارد.

کمک های دیگر به پاکستان برای بخشهای اعمار بندهای برق و تحکیم حاکمیت قانون دریک منطقه پرطلاطم، تخصیص میابد.

وزارت خارجه امریکا به کانگرس گفته است، به دلیل چالش ها بین امریکا و پاکستان و تغیر روابط بین دو کشور در سال های ۲۰۱۱ و ۲۰۱۲ کمک های قابل ملاحظه یی به پاکستان صورت نگرفته است.

وزارت خارجه امریکا همچنان گفته است، برای مبارزه برضد تروریزم و بلند بردن توانایی های پاکستان در مبارزه برضد تروریزم تقویت توانایی های تجهیزاتی آنکشور مهم است.

وزارت خارجه امریکا به تاریخ بیست و پنجم ماه جولای به کانگرس گفت، کمک های نظامی به پاکستان ۲۹۵ میلیون دالر خواهد بود ولی امریکا ۱۲ روز بعد از آن اعلان کرد مبلغ ۳۸۶ میلیون دالر به پاکستان کمک می کند.

بعداً به تاریخ سیزدهم اگست گفته شد که مبلغ ۵، ۷ میلیون دالربرای تقویت قوای هوایی و اردوی آنکشور جهت مبارزه برضد تندروان درمناطق ناآرام تخصیص خواهد یافت.

دحزب اسلامي افغانستان په ...

دا پرتمین مراسم سهار نهه بجې دحزب اسلامي افغانستان دمشرتابه او اجرائیه شورى له لوري په ښه راغلاست اوکرمو مبارکيو پيل شو.

پدې مراسمو کې د حزب اسلامي افغانستان مشران په يو کتار کې ولاړ واو د راتلونکو درنو ښاغلو هرکلی يې کاو، هر چا خان کوربه گاڼه او د ډېرې مودې ناليدلو دوستانو او مجاهدينو يکې سره وليدل او د خوښی شيبې يې سره شريکې کړې. د حزب اسلامي خوانانو د هرکلي ترڅنګ د خپلو مشرانو خدمت کاوه پدې مراسمو کې دنورو مشرانو ترڅنګ دحزب اسلامي رئيس او د اقتصاد وزير عبدالهادي ارغنديوال او د راتلونکو ولسمشريزو ټاکنو لپاره لومړی مرستيال انجنير محمدخان هم حضور درلود د خوښی دا مراسم تر غرمې وروسته پای ته ورسيدل.

همدې ته ورته مراسم دننګرهار په ولايتي دفتر کې هم دلوی اختر په دريمه ورځ ترسره شول چې دمعلوماتو له مخې په سلګونو ننګرهاريانو يکې برخه واخيسته او د اختر د مبارکې ورځې خوښی يې سره شريکې کړې، پدې مراسمو کې دحزب اسلامي د اجرائيه شورى غړي او د دعوت او تنظيم رئيس شيخ القرآن مولوي جانباز سرفراز لنډه او هر اړخيزه وينا وکړه او په روانو حالاتو يې رڼا واچوله. دا غونډه هم له غرمې وروسته لوی الله ته د دعا د لاسونو په پورته کولو پای ته ورسيده.

فساد، تهدید عمده در راه ...

جیمز کنینگهم سفیر امریکا در کابل در این اعلامیه همچنان گفته است، برای آن که فرصت های اقتصادی در افغانستان گسترش یابند حکومت این کشور باید اصلاحاتی را به هدف جلب اعتماد سرمایه گذاران عملی نموده و سکتور تجارتی را تقویت بخشد و هم قوانین مناسب را در مطابقت با نورم های بین المللی نافذ نماید.

سفیر امریکا همچنان از نقش رسانه ها در محو فساد نام برده و گفته است، رسانه ها در راستای افشای قضیه های فساد اداری، نقش مهمی را می توانند برای محو فساد در افغانستان بازی کنند.

سفیر امریکا ضمن این که گفته است، امریکا و متحدین اش در مبارزه بر ضد فساد در افغانستان همکاری می کنند، از حکومت افغانستان نیز خواهان اقدامات جدی برای محو این پدیده شده است.

این اعلامیه سفارت امریکا در حالی منتشر شده است که سیگار یا اداره خاص امریکا برای نظارت از بازسازی افغانستان گفته است که از سال ۲۰۰۴ تا ۲۰۱۲ میلادی ۱۳۰ میلیون دالر برای پرزه جات وسایط اردوی ملی افغانستان استفاده شده است و این پرزه جات، اضافه تر از ضرورت خریداری شده و در گدام های نظامی ذخیره شده اند.

این در حالیست که افغان ها خود از فساد گسترده در کشور شکایت داشته و تعدادی به طور خاص نگرانی شان را از فساد در ادارات امنیتی ابراز می دارند.

با وجود سرازیر شدن ملیارد ها دالر کمک های بین المللی برای بازسازی و بهبود اقتصادی افغانستان، گفته می شود رشد اقتصادی این کشور آنچنان که باید می بود، نبوده و یکی از دلایل عمده آن همانا فساد گسترده اداری در ده سال گذشته بوده است.

آیساف: نیروهای افغان توانایی ...

"آنچه به ما اطمینان می دهد این است که ارگان های امنیتی افغان تلاش های شان را جهت تامین امنیت هماهنگ می سازند و آنان این کار را به موثریت کامل پیش می برند و به نظر ما این یک پروسه امیدوار کننده است.

آنچه را من گفته می توانم این است که کمیسیون مستقل انتخابات و تمام افغان ها باید به گونه کامل به انتخابات توجه داشته باشند."

آقای فیلدمن افزود که آنان از برگزاری انتخابات شفاف،عادلانه و آزاد در افغانستان حمایت می کنند.

با آن که کمتر از شش ماه به برگزاری انتخابات آینده ریاست جمهوری و شورا های ولایتی در افغانستان باقی مانده، وزارت داخله افغانستان می گوید که هنوز هم هفت ولسوالی کشور با تهدید جدی مخالفین مسلح مواجه اند.

به گفته مسوولین حکومتی، به دلیل نا امنی ها تا کنون روند ثبت نام در این ولسوالی ها آغاز نگردیده است.

اما سخنگوی آیساف ابراز امیدواری کرد که نیرو های امنیتی افغان بتوانند در شش ماه آینده امنیت در این ولسوالی ها را تامین کنند.

در عین حال شماری از آگاهان امور، کمک آیساف در تامین امنیت انتخابات را با اهمیت خوانده و می گویند که این نیروها می توانند در تامین امنیت محلات انتخاباتً نقش مهم داشته باشند.

جنرال عبدالواحد طاقت یکی از این کارشناسان در صحبت با رادیو آزادی گفت که این مساله می تواند در بهتر ساختن روحیه نیرو های امنیتی افغان نیز موثر واقع شود:

« تامین امنیت انتخابات به کمک نیروهای آیساف و ناتو بسیار با ارزش است. ناتو می تواند که در تامین امنیت محلات انتخابات بشکل فزیکی نقش ایفا کند و مورال نیروهای امنیتی افغان را بلند ببرد و مورال رای دهندگان نیز بلند می رود.»

تهدیدات امنیتی نه تنها به شورشیان در داخل کشور نسبت داده می شود، بلکه به اساس گزارش ها، شماری از حلقات استخباراتی کشور های همسایه نیز تلاش می کنند تا مانع برگزاری انتخابات ریاست جمهوری و شورا های ولایتی در افغانستان گردند.

شماری از کارشناسان موجودیت نیرو های بین المللی را در کنار نیرو های امنیتی افغان در تامین امنیت انتخابات جهت تامین امنیت بهتر این پروسه ضروری می دانند.

د ځمکو د غاصبينو د لست خپرېدو ...

پر ځانګړې کميسيون انتقاد وکړ چې؛ يو شمېر کسان پرته له کوم ثبوت نه د ځمکو پر غصب تورن شوي دي.

له دې لست سره خينو وکيلانو خپل مخالفت ته کوندې رنګ هم ورکړ.

د ولسي جرګې غړيو بشير احمد تيتج او رمضان جمعه زاده په دې اړه ووېل:

"۱- هغه تورونه چې د ملي جنبش پر ګوند لګيدلي؛ ټول بې اساسه دي او په عين حال کې موږ د افغانستان د خلکو په مقابل کې له خپلو کړنو دفاع کوو او دا بې مورده اتهامات په کلکه ردوو.

۲- موږ د اسماعيليه رهبر پر وړاندې د دې کميسيون له خوا اتهامات بې اساسه بولو؛ موږ په دې برخه کې بې تفاوته نه يو او په دې برخه استاد لرو، د ځمکو غاصبين نور دي، د سيد منصور نادري نوم يواځې د يوه کس په صفت نه بلکې د ټولو اسماعلياتو نومونه په کې ياديږي او د دې بې مورده اتهاماتو په اړه موږ ځواب غواړو."

د حکومت پر اعمالو د ولسي جرګې د ځارنې ځانګړې کميسيون له اتو مياشتو کار وروسته د شنبې په ورځ دې جرګې ته د هغو پنځلسو زرو کسانو لست وسپاره چې؛ د يو عشاريه درې مليونو جريبه ځمکې په غصب کې په لاس لرلو تورن بلل شوي.

په دې لست کې نولس کسان داسې ښودل شوي چې هر يو يې د لسګونو زره جريبه ځمکې په غصب تورن دي.

خو د ولسي جرګې غړي وايي چې؛ په دې لست کې د هغو کسانو نومونه نه دي اخستل شوي؛ د ځمکو اصلي غاصبين دي او په حکومت کې کار کوي.

په عين حال کې د حکومت پر کارونو د ولسي جرګې د ځار د ځانګړې کميسيون رييس زلمي مجددي ووېل چې؛ دغه لست د جرګې د اکثرو غړيو د غونډې پر بنسټ اعلان شوی دی.

"کوم اسناد او راپور چې موږ ته را رسيدلي اعلان شوي، موږ نه غوښتل چې دغه لست خپور شي، خو د جرګې د يو شمېر غړيو په غوښتنې دغه لست اعلان شو، موږ به کې کوم زياتي او کمی نه دی راوستی، خو دا هېڅوک نه شي بټولی چې، د ځمکې د غصب پيل په بې رحمانه ډول د ملي جنبش په واکمنۍ کې د افغانستان له شمال څخه پيل شوی او اوس هم دوام لري."

نوموړي همدارنګه دا منې چې، په دې لست کې د ځمکو د غصب د هغو تورنو کسانو نومونه نه شته چې په حکومت کې لوړې ځوکی لري.

ويل کيږي، د ځمکې د غصب د مافيايي کړيو نفوذ او دولتي ادارو کې پراخ اداري فساد ته لاره هواره کړې او په ځينو ځايونو کې يې حتی د پراختيايي پروژو د تطبيق مخه نيولې ده.

ځينې کتونکي پر دولت انتقاد کوي چې؛ د ځمکو له غاصبينو سره جدي چلند نه کوي او په تيرو دولسو کلونو کې کې ډېر لږ داسې ليدل شوي چې يو ځوک د ځمکو د غصب په تور نيول شوي او يا محاکمه شوي وي.

کرزي د لوګر دوه امنيتي ...

د لوګر د والي وياند دين محمد درويش بي بي سي ته ووېل، چاودېدونکي توکي په هغه مايکروفون کې ځای پر ځای شوي وو، چې ارسلا جمال په کې د پل علم په جامع جومات کې د اختر له لمانځه وروسته خلکو ته وينا کوله.

خو وروسته د افغانستان ملي امنيت ووېل، چې دغه چاودېدونکي توکي په قرانکريم کې ځای پر ځای شوي و.

په لومړنيو رپوټونو کې ويل شوي، د چاودنې په پايله کې د والي وژل کېدو ترڅنګ ۱۵ کسان ټپيان دي.

ولسمشر کرزی دا وژنه غندلې او ويلي يې دي چې طالبانو د بمونو په ايښودلو او پر جوماتونو او لمونځ کوونکو د بريدونو په ترسره کولو له اسلام او بشريت سره خپله ښکاره دښمني په اثبات و رسوله.

د لوګر ولايت وژل شوی والي ارسلا جمال د پکتيکا ولايت د يوسف خېلو ولسوالۍ په برات خېلو کلي کې ۱۳۴۴ کال کې وزېږېد.

ارسلا جمال لومړنۍ زده کړې د افغانستان پلازمېنې کابل په حبيبيه ليسه کې وکړې او وروسته يې تر ۱۲ ټولګي پورې د پېښور په سيد جمال الدين افغان ليسه کې منځنۍ زده کړې وکړې.

ارسلا جمال ولسمشر کرزي ته نږدې کس و او د ۲۰۰۹ کال په ټاکنو کې يې د هغه لپاره انتخاباتي مندې تړې کولې.